# دجُمات احترام

پښتو




شیخِ طریقت، امیرِ اَہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

**مُحمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

(دا مضمون د کتاب ”نیکی کی دعوت“ صفحه 414 تا 437 نه اخستے شوے دے.)

# د جُمات احترام

دُعائے عطّار: یا ربَّ الـمُصطفٰی! څوک چې دا رساله ”د جُمات احترام“ اولولي یا واوري هغه جُماتونو سره محبت کوونکے او د جُماتونو ادب احترام کوونکے جوړ کړې او هغه سره د مور و پلار او سره د ټول خاندان بے حسابه اُوبخښې.

## د درود شريف فضيلت

د الله پاک د آخري نبي محمدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: اے خلقو! بيشكه په ورځ د قيامت به د هغې د ويرو او حساب كتاب نه زر نجات موندونكے هغه كس وي چا چې په تاسو كښې په ما باندې په دُنيا كښې ډير دُرود شريف وئيلے وي.

(فردوس الخبار، 5/277، حديث: 8175)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## مونږ دُنيا ته د څه د پاره راغلي يو

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونو! د سُنّتو ډك بيان ”د ظُلم اَنجام“ چې هغوئې واوريدو او ټولې كورنئ د ګناهونو نه توبه وكړه، دا تاسو هم كم نه كم يو ځل ضرور واورئ. د دې V.C.D [وي سي ډي]د دَعوتِ اسلامي د اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه نه هديةً اغستے شئ او د دَعوتِ اسلامي په ويب سائټ www.dawateislami.net باندې ئې هم اوريدې شئ. د بيان رساله ”د

**ظُلم اَنجام**" هم د **مَکْتَبَۃُ الْمَدِیْنه** نه واخلئ او اوئي لوَلئ بلکه په ډير تعداد کښې ئې هديه کړئ او د خپلو خپلوانو د ايصالِ ثواب د پاره ئې تقسيم کړئ. د دې **مَدَني سپرلي** نه دا هم معلومه شوه چې کوم کار يو مُبَلِّغ نه شي کولے اَلْحَمْدُلِلّٰه هغه کار **مَدَني چينل** کوي يعني د ګناهونو په دلدل کښې نښتي د معاشرې هغه کسان چې هغوئي جُماتونو ته نه راځي، او نه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې شرکت کوي او د عُلمائے کِرامو او د **الله پاک** د نيکو بندګانو او د مَدَني لباس والا د ګيرې او عِمامې والا عاشقانِ رسول سره د ناستې ولاړې شوق نه لري. **مَدَني چينل** د داسې خلقو کورونو ته داخليږي او هغوئي ته د هغوئي د ژوند حقيقي مقصد ښائي او نيك بختِه د **الله پاک** په دربار کښې ټيټوي او د عِشقِ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شربت پرې څښني. بيشکه مونږه دُنيا ته بيکاره يعني صرف د دُنيا د خوندونو اغستلو او د دې ځائے د سهولتونو نه د مزو اغستلو د پاره نه يو راغلي، بلکه مونږه دَلته د عِبادت د پاره را ليږلي شوي يو، بيا په مُقَرَّره وَخت که زمونږ زړه بالکل هم نه غواړي خو د هغې باوجود به زمونږه مرګ راځي او د تورو تيارو نه ډك قبر ته به يواځې کوز کړې شو، معلومه نه ده چې څو زره کاله به په قبر کښې تيروو او بيا به په حشر کښې راپاڅولے شو او د قيامت په ورځ به د حساب کتاب سره **مخامخ** کيږو. د **دَعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے **مَکْتَبَۃُ الْمَدِیْنه** چاپ شوي تَرجَمے والا پاکِيزه قرآن **کَنْزُالْاِیْمَان مع خَزائِنُ الْعِرْفَان** صفحه 647 اَتلَّسمه سيپاره **سُوْرَۃُ الْمُؤْمِنُوْن** آيت نمبر 115 کښې ارشاد دے:

اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۱۵﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِيمان: نو آيا تاسو دا خيال کوئ چې مونږه تاسو بيکاره پيدا کړي ئې او [آيا] تاسو به زمونږ طرف ته نه راګرځئ.

**صَدرُ الافاضِل** حضرت عَلّامه مَولانا سَيِّد **مُحَمَّد نَعِيمُ الدِّين مُراد آبادي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آيتِ کريمه لاندې فرمائي: او (آيا تاسو به په) آخِرت کښې د جزا د پاره نه راپاڅئ؟ بلکه تاسو د عبادت

د پاره پيدا کړي شوي ئې چې په تاسو عبادت لازم کړو او چې په آخِرت کښې تاسو زمونږ طرف ته را وګرځئ نو تاسو ته به ستاسو د اعمالو جزا درکړو. (خزائن العرفان)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! مونږ ټولو ته د خپل حقيقي مَقصد د حاصلولو د پاره هر وخت کوشش کول پکار دي، د ګناهونو نه بچ کيدل او د ثواب په کارونو کښې مشغوليدل پکار دي. مَدَني چينل ګورئ او نورو ته ئې هم ښائې ځکه چې په ښو ښو نِيَّتونو د مَدَني چينل سلسلې کتل او نورو ته د کتلو دعوت ورکول هم د الله پاک د رضا سَبَب او جَنَّت ته بوتلونکے کار دے. مرګ هر وخت ياد ساتئ! مرګ ناوك [يعني د واده هلك] رسا د جنج د مينځ نه او ناوې د واده د خوشحالئ او د نرم او پاسته پالنګ نه يو دم اوچت کړي.

بولی خَلوت میں اَجل دولھا دولھن سے وقتِ عیش ہے تمہیں بھی قبر کے گوشے میں سونا ایک دن

مرګ اُووئيل ناوي او ناوك ته په وخت د خوشحالو کښې
اوده کيږئ به يو ورځ تاسو د قبر په تِيارو کښې

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## چې په جُمات کښې په زوره قدم اغستل منع دي نو......

زما د آقا اعلٰی حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د نيکئ د دعوت ورکولو جذبه مرحبا! هغوئ رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به د نيکئ د دعوت ورکولو او د ثواب ګټلو يوه موقع هم نه ضائِع کوله چنانچه خليفهٔ اعلٰی حضرت، مَلِكُ العُلَماء حضرت عَلَّامه مَولانا مفتي ظفرالدِّين بِهَاری رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ليکي: يو "صاحِب" چې هغه به د نواب صاحِب په نوم يادېدلو، جمات ته د لمانځه د پاره راغلو او په ولاړه ولاړه ئې په بے پرواهئ سره خپله لښته (يعني همسا) د جمات په فرش

داسې اوغورزَوَله، چې د هغې آواز حاضرو خلقو واوريدو. اعلٰی حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه **(هغه ته د نيکئ دعوت ورکړو او ورته ئې)** اُوفرمائيل: "**نواب صاحِب! په جُمات کښې په زوره قدم اغستل هم منع دي، نو بيا لنبته دومره په زوره غورزول!**" نواب صاحِب زما په مخکښې وعده وکړه چې اِنْ شَآءَاللهُ الكريم بيا به داسې نه کيږي.

**د الله پاک دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي.**

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په جُمات کښې د موبائل ټلئ بنده ساتئ

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! د هر مسلمان د پاره ضروري دي چې **د جُمات ادب و احترام** کوي، دا خيال ساتل ضروري دي چې په جُمات کښې د ګرځيدلو په وخت کښې د ښپو درَب پيدا نه شي. نور د دې نه علاوه لنبته، چترئ، د لاس پکې [يعني ببوځې]، څپلئ، بيګ، لوښي وغيره يو څيز دې هم داسې نه ګردي چې د هغې آواز پيدا شي. که موبائل فون وي نو په جُمات کښې د هغې ټلئ بنده ساتي، افسوس! د دې احتياط کم کيږي تر دې چې په مَسجِدُ الحَرام شريف کښې او هغه هم عين د خانهٔ کعبه په طواف کښې د خلقو د موبائلو ټلئ بلکه مَعَاذَالله ميوزيکل ټيونز (يعني د سَندرو او سازونو ټلئ) غږيږي، حالانکه ميوزيکل ټيونز خو د جُمات نه بهر هم **ناجائزه** دے.

## د "بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم" د نُولَسو حروفو په نِسبَت د جُمات په باره کښې 19 مدني ګلونه

د جُمات د احترام په باره کښې د **دَعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارے **مَكْتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي د 1574 صفحو کتاب **فيضانِ سُنَّت** (جلد اوّل) کښې د صفحه 1202 نه 1207 پورې بيان

شوي مَدَني ګلونه د څه نه څه بدلون سره وړاندې کيږي، قبول ئې کړئ او د خپل زړه په مَدَني ګلدسته کښې ئې ولګوئ.

**(1)** روايت شوے دے چې يو جُمات د خپل **رَبّ** تعالیٰ په حُضُور کښې د فرياد کولو د پاره روان شو چې خلق په ما کښې د دُنيا خبرې کوي. [په لاره کښې] فَرِښتې راروانې وې او د هغه سره ئې ملاقات اوشو او وئيل ئې: مونږ د دوئي **(يعني په جُمات کښې د خبرو کوونکو)** د هلاك كولو د پاره راليږلې شوي يو. (فتاوٰی رضویه ج16 ص312)

(2) روايت شوے دے "کوم خلق چې غِيبت کوي او کوم خلق چې په جُمات کښې د دُنيا خبرې کوي د هغوئي د خُلې نه سخا بوئي خيژي چې د هغې په وجه فرِښتې د **الله پاک** په حُضُور کښې د هغوئي شکايت کوي." سُبْحٰنَ الله عَزَّوَجَلَّ! چې په جُمات کښې د ضرورتِ شرعِيَّه نه بغير د مُباح او جائزو خبرو کولو داسې آفتونه دي نو **(په جُمات کښې به)** د حرام او ناجائزه کار کولو څه حال وي! ايضاً

(3) **درزي** ته په جُمات کښې د جامو ګنډلو اجازت نشته. خو!که د ماشومانو د منع کولو او د جُمات د حفاظت د پاره ناست وي نو باك نشته. هم دغه شان كاتِب **[يعني ليکونکي]** ته **(په جُمات کښې)** په اُجرت **[يعني په مزدورئ]** د ليکلو اجازت نشته. (عالمگیری ج1 ص110)

**(4)** په **جُمات** کښې دننه د هيڅ قِسمه خزلې **[کچره]** مه غورزوئ. سَيِّدُنا شيخ عبدُالحق مُحَدِّث دِهلوی رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په "جَذبُ القُلوب" کښې نقل کوي چې که په جُمات کښې خس **(يعني معمولي يوه ذره خزله)** هم اوغورزولې شي نو په هغې جُمات ته دومره تکليف رسي څومره تکليف چې انسان ته په سترګه کښې د خزلې پريوتو په وجه رسي. (جَذبُ القلوب ص222)

(5) د **جُمات** په ديوال، فرش، صفونو يا درئ د پاسه يا د هغې نه لاندې ټُوکل، پوزه سونګـوَل، د پوزې يا د غوږ خِيرې پرې لګول، د جُمات د درئ يا پزَکـې نه تار يا ډکـې وغيره شلول يا ماتول ټول منع دي.

(6) ضرورتاً (په جُمات کښې) په خپل رومال وغيره باندې پوزه پاکولو کښې څه باك نشته.

(7) په جُمات جارو کولو کښې چې کومې خزلې يا دُوړه وغيره جمع شي هغه داسې ځائے کښې مه اچوئ کوم ځائے چې د هغې بے ادبي کيږي.

(8) **خپلئ** چې اُوباسئ او د ځان سره ئې جُمات ته دننه ورِل غواړئ نو بَهَر ئې څنډئ. که د ښپو په تلو پورې مو د خاورو څه ذرې نښتې وي نو په خپل رومال وغيره ئې پاکوئ بيا جُمات ته ننوځئ. چې په جُمات کښې د ګرد څه ذرّه اُو نه غورزيږي د دې خيال ساتئ.

(9) د **جُمات** په اودس خانه کښې د اودس کولو نه پس هم هغلته په اودس خانه کښې ښپې ښې وچوئ، په لـمدو ښپو جُمات ته د ننوتلو په وجه فرش ګنده کيږي او درئ خيرنيږي او بدې ښکاري. اوس زما د آقا اعلیٰ حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دين و مِلَّت **مَولانا شاه امام احمد رضا خان** عَلَيْهِ رَحْمَةُ الرَّحْمٰن د ملفوظاتو شريفو نه د جُمات بعضې آدابِ پيش کيږي:

(10) په **جُمات** کښې منډه وهل يا په زوره قدم ايښودل، چې د درَب آواز پيدا شي منع دي.

(11) د اودس کولو نه پس چې د اوداسه د اندامونو نه يو څاڅکې هم د جُمات په فرش اُو نه لويږي. (ياد ساتئ! د اوداسه د اندامونو نه يو څاڅکې هم د جُمات په فرش کول ناجائزه او ګناه ده.)

(12) د **جُمات** د يوې درجې نه بلې درجې ته د ننوتلو په وخت (مَثلاً انګڼ ته چې ننوځئ

نو هم اَو چې د انګڼ نه دننه حصې ته ځئ نو هم) ښې قدم مخکښې کوئ، تر دې چې که صف خور وي نو هغې ته ښې قدم ورمخکښ کوئ او چې کله د هغه ځائے نه لرې کيږئ [يعني چې بيرته را اُوځئ نو] بيا هم [مخکښې] ښې قدم د جُمات په فرش ګرځئ (يعني په تلو راتلو کښې هر خور شوي صف ته ښې قدم ورمخکښ کوئ) يا خطِيب چې کله منبر ته د ختلو اراده اوکړي نو ښې قدم دې مخکښې خيژوي او چې کله راکوزيږي نو (هم) ښې قدم دې مخکښې کوزوي.

**(13)** په **جُمات** کښې که پرَنجې درشي نو کوشش کوئ چې آواز په قلاره اُوځي هم دغه شان په ټُوخې کښې هم [دا خيال ساتئ]. **سرکارِ مدينه** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په جُمات کښې په زوره پرَنجې کول نه خوښوو. هم دغه رنګ ډرَقې حِصارول پکار دي، او که نه حصاريږي نو په کوشش سره آواز دباوَوَل [يعني کم ساتل] پکار دي اګر که د جُمات نه علاوه هم وي. خاص طور په مجلس کښې يا د يو مُعَظَّم (يعني مشر) په مخکښې بے تهذيبي [يعني بَد اخلاقي] ده. په حديث پاك کښې دي: يو کس په دربارِ اقدس صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې ډرَقې وکړو آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اُوفرمائيلو: زمونږ نه خپل ډرَقې لرې ساته ځکه چې په دُنيا کښې به چا د زياتې مودې پورې خيټې ډکولې هغوئي به د قيامت په ورځ د زياتې مودې پورې وږي اوسي. (شَرحُ السُّنّه ج7ص294 حديث2944) او په هَوَکې [يعني اَکرَمې] کښې آواز يو ځائے هم وِيستل نه دي پکار. اګرکه د جُمات نه بَهر يَوَاځې وي ځکه چې دا د شيطان قَهقَهه [يعني خندا] ده. هَوَکې چې کله هم درشي نو په کوشش سره خُله بنده ساتئ [د هَوَکي په وخت کښې] په خله بيرته کولو شيطان [بنده ته] په خُله کښې لاړي تُوکي. که داسې نه بنديږي

نو په بره غاښونو لاندينۍ شونډه نيسۍ او که داسې هم حصار نه شي نو په کوشش سره خُله کمه بيرته کوئ او د چپ لاس شا په خُله باندې کېږدئ. ولې چې هَوَکې د شيطان له طرفه دے او اَنبياءِ کرام عَلَيۡهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام د دې نه محفوظ دي. لِهٰذا که هَوَکې درشي نو دا تَصَوُّر کوئ چې اَنبياءِ کرام عَلَيۡهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام ته هَوَکې نه ورځي اِنۡ شَآءَ اللّٰه تعالٰی فوراً به اودرېږي.
(رَدُّالمُحتارج2ص498، 499)

**(14)** تَمَسخُر (يعني ټوقې ټقالې، پيښې کول) هسې هم مَنع دي او په جُمات کښې سخت ناجائزه دي.

**(15)** په **جُمات** کښې خندا کول منع دي ولې چې دا په قبر کښې تِياره راولي. د موقعې د مناسَبَت سره په مُسکے کيدو کښې باك نشته.

**(16)** د **جُمات** په فرش خه ځيز غورزَوَل نه دي پکار بلکه په قلاره اېښودل پکار دي. د ګرمۍ په موسم کښې خلق ببوځې وهي او بيا ئې غوزار کړي (په جُمات کښې ټوپۍ، څادر وغيره هم مه غورزَوئ هم دغه رنګ په څادر يا رومال فرش داسې مه څنډئ چې آواز پيدا شي) [بعضې خلق] لرګي [همسا]، چترۍ وغيره د اېښودو په وخت د بره نه پرېږدي. دا منع دي. الغرض د جُمات اِحترام کول په هر مسلمان باندې فرض دے.

**(17)** په **جُمات** کښې حَدَث (يعني هوا خارِجول) منع دي که ضرورت وي نو (که په اعتکاف کښې نه وي نو) بهر ته وتل پکار دي. لِهٰذا **مُعتَکِف** [يعني اعتکاف کونکې] ته پکار دي چې د اعتکاف په ورځو کښې لږ خوراك کوي، خېټه دې سپکه ساتي

چې د قضائے حاجت د وخت نه علاوه يو وخت هم د هوا خارِجولو حاجت نه راځي. [ولې چې] هغه به د دې د پاره بَهَر ته نه شي تلې. (البَته د جُمات په حدودو کښې موجودې بيتُ الخلاء يعني wash room ته د هوا خارِجولو د پاره تلې شي)

**(18)** قِبلې ته شپې غزول خو هر ځائے کښې منع دي. او په جُمات کښې دې ئې يو طرف ته هم نه غزوي ځکه چې دا د ادب خلاف دي. حضرت سَرِي سَقَطي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په جُمات کښې يواځې ناست وو، ښپه ئې اوغزوله، د جُمات د کُوَټ نه غيبي آواز راغې: **سَرِي!** د بادشاهانو په دربار کښې څوك داسې کښيني؟ فوراً ئې ښپې راغونډې کړې او داسې ئې راغونډې کړې چې د مرګ په وخت ئې اوغزولې.(سبع سنابل ص131) (د ورو ماشومانو سره د مينې کولو، په غيره کښې د اخستلو او د خملولو وخت کښې احتياط کوئ چې د هغوئ ښپې قِبلې طرف ته نه شي او چې بَولو ته ئې کښينوئ نو دا ضروري ده چې د هغه مخ يا شا قبلې ته نه شي)

**(19)** اِ**ستعمال** شوې پيزار که په ښپو وي نو جُمات کښې ګرځيدل ګستاخي او بے ادبي ده. (مُلَخَّص از ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت ص 317 ته 323)

الٰہی کرم بہرِ شاہِ عَرَب ہو — ہمیں مسجِدوں کا مُیَسَّر ادب ہو

اِلٰهي کرم وکړه په برکت د شاهِ عَرَب — مونږ ته نصيب کړې د جُماتونو ادب

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د کینسر مریض جوړ شو

اَلْحَمْدُلِلّٰه په **دعوتِ اسلامي** باندې د **الله پاک** او د هغه د خوږ حبیب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډېر کرم دے. ډېر ځل مو اوریدلي دي چې ډاکټرانو کومو مریضانو ته لاعلاجه وئیلي دي د هغوئي په مَدَني قافلو کښې د سفر په دوران کښې د دُعاګانو غوښتلو په سَبَب علاج شوے دے، چنانچه د ماړي پور (بابُ المَدینه کراچۍ) یو اسلامي وروړ یوه ایمان تازه کونکې واقعه لیکلې وه د هغې مضمون څه داسې وو چې: د هاکس بے (بابُ المَدینه کراچۍ) اوسیدونکے یو اسلامي وروړ د کینسر مریض وو، هغه د **دعوتِ اسلامي** دیني تحریک **مَدَني قافله** کښې **عاشقانِ رَسول** سره د سفر کولو سعادت حاصل کړو. د سفر په دوران کښې هغه غریب ډېر خفه او مایوسه شان وو. عاشقانِ رسول به ورله تسلّي ورکوله او د هغه د پاره به ئې دُعاګاني هم غوښتلې. یوه ورځ د سحر په وخت کښې په ناسته ناسته ناڅاپه هغه اُلټۍ اوکړې او په هغې کښې ئې د مرئ نه د غوښې یوه ټُکړه را اُو وتله! د اُلټو نه پس هغه ته ډېر ارام راغلو.

د **مَدَني قافلے** نه چې بَیرته راغلو نو ډاکټر ته ورغلو او بیا ئې ټیسټونه وکړل نو ډاکټر حیران پاتې شو ولې چې د هغه د کینسر مرض ختم شوے وو. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَلٰی اِحْسانِه.

مرضِ نِسیان ہو چاہے سَرطان ہو، کوئی سی ہو بَلا، قافِلے میں چلو
دُور بیماریاں اور پریشانیاں ہوں بفَضلِ خُدا، قافِلے میں چلو

که مرض وي د نِسیان، یا که وي چرې سرطان که وي هر قِسم بَلا، قافلو کښې لاړ شئ
لرې به شي بیمارئ هم به لرې شي خفګان په فضل د الله، قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مدني قافلے د مریضو مسافرو په باره کښې 5 مدني ګلونه

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! تاسو اولیده! **الله پاک** د مَدَني قافلے په بَرَکت د کینسر مریض ته صحت ورکړو. د مدني قافلے د مریضو مسافرانو په باره کښې **5 مدني ګلونه** قبول کړئ:

(1) په حقیقت کښې صرف الله تَبارَكَ وَ تَعَالٰی شَافِئُ الْاَمْراض یعني د بیمارو نه شِفاء ورکونکے دے. ټولو ته معلومه ده چې کله کله غټ غټ پوهه طبیبان د ښې نه ښې دوایانې ورکوي خو مَرَض ورځ په ورځ زیاتیږي او آخر دا چې مریض وفات شي. لِهٰذا که په مَدَني قافِله کښې یو بیمار ته شِفا نصیب نه شي نو د شیطان په وَسوسو کښې مه راځئ.

(2) داسې مریضان په مَدَني قافِلو کښې مه لیږئ او په اِعتِکاف کښې ئې هم مه کښینوئ د چا نه چې نور خلق کَرَکه کوي یا ترینه ورته تکلیف رسي. یو ځل د **دعوتِ اسلامي** په عالَمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه بابُ المَدِینه کراچئ کښې د کینسر یو مریض مُعتَکِف شو، هلته په زرګاؤ اِعتِکاف کونکي وي. د هغوئ حلقې جوړیږي، په یوه حلقه کښې هغه هم شامل کړې شو. اسلامي وروڼو به چې پیشمنې او روژه ماتې کولو نو هغه به هم ورسره کښیناستلو، د خُلې یا د مرئ د کینسر په سَبَب به غریب خوراك نه شو کولے، بیشکه هغه غریب ډیر د رَحم قابِل وو خو هر کس په دې خبره ښه پوهیږي چې د هغه د حلقې **اعتکاف کوونکو** ته به د هغه مریض په وجه څومره تکلیف رسیدلې وي! واقعي که د ډوډئ خوړلو نه معذوره مریض د بل نوړئ شمیرې نو په خوراك کونکي چې څه تیریږي په هغې هر عقلمند کس پوهیږي.

(3) د بعضې مریضانو زخمونه خراب شوي وي، ګند ترینه بهیږي او بدبوئي کوي. اګر چې هغه د هر قسمه همدردئ لائق او د رَحم قابِل وي خو د هغوئ مرض د نورو د پاره د تکلیف باعِث

وي. ځکه هغوئي ته اِعتِکاف کول او په مَدَني قافِله کښې سفر کول نه دي پکار، په داسې حالت کښې جُمات ته داخليدل هم شرعاً حرام دي ځکه چې د بدبوئي نه عامو مسلمانانو او فرِښتو ته تکليف رسي.

(4) داسې کس چې د خُلې نه ئې اوبه بهيږي، يا چا چې URINE BAG [يعني د وړو بَولو پوکنۍ] يا STOOL BAG [يعني د پوکنۍ په شان د غټو بَولو جانګې] اغوستې وي، يا د جُذام وغيره مريض داسې کسان دې په مَدَني قافِله کښې سفر نه کوي او په اعتِکاف کښې دې هم نه کښيني. **زما آقا اعلٰی** حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، **مُجَدِّدِ** دِين و مِلَّت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په **فتاوٰی رضويه (جلد**24**)** صفحه 220 کښې نقل کوي: د جُذام يوې مريضې زَنانه د کعبهٔ مُعَظَّمه طواف کولو اَميرُالمُؤمِنين فاروقِ اعظم رَضِيَاللهُعَنۡهُ هغې ته اُوفرمائيل: اے د **الله** بندې! خلقو ته تکليف مه ورکوه، ښه به دا وي چې ته په کور کښې کښينې، بيا هغه (زنانه) د کور نه اُو نه وَتله. (مؤطا امام مالك ج1 ص388 رقم 988)

(5) هم دغسې نفسياتي مريضان يا د پيريانو او د مِرګي والا مريضان هم په مَدَني قافِله کښې ليږل نه دي پکار او نه دې جُمات ته داخِليږي، څوك چې د دورې پريوتو په حالت کښې بے هوشه کيږي يا چغې وهي يا ډير زيات لاس ښپې وهي او د جُمات د بے ادبۍ او د نورو د تکليف سَبَب جوړيږي د داسې مَريضانو په اِعتِکاف کښې د کښينَوَلو يا په مَدَني قافِله کښې دَ ليږلو په ځائے دې دَ هغوئي نُمائِنده **[يعني د کور يو کس يا دوست يا بل خپل څوك]** سفر کوي يا دې په اِعتِکاف کښې کښيني او د هغه د پاره دې دُعا کوي. دا هم کيدے شي چې داسې مريض يا د هغه دکور کسان په يو اسلامي ورور يا د خپل وَس مطابق چې د څو کسانو خرچ برداشت کولے شي د هغوئي خرچ دې ادا کړي او د 3 روځو، 12 ورځو، 30 ورځو، 12

میاشتو یا د 25 میاشتو په مَدَني قافِله کښې دې د ثواب په نِیَّت په هغوئي سفر اوکړي. د مریض نُمائنده به دُعا کوي، الله **غَفُوْرٌرَّحِیم** [که اُوغواړي نو] په خپل رَحمَت به شِفا ورکړي. خو یاد ساتئ! رقم دې صرف د **دعوتِ اسلامي** د طرفه مقرر شوي مَدَني قَافِله ذِمَّه دار ته جمع کړے شي هغوئي به ئې د خپل ترکیب مطابق په سفر لیږي، ځکه چې که تاسو بل چا ته رقم ورکړئ نو ضروري نه ده چې هغه سفر اوکړي او یا کیدے شي چې د سفر په نیمه کښې بیرته راشي. **یاد ساتئ!** د مریض بے ځایه زړه خفه کول نه دي پکار، د هغه تپوس کول پکار دي، د هغه سره ملاقات او خبرې اترې هم جاري ساتل پکار دي بلکه که چرې په یو ځائے کښې مَدَني قافِله د جُمات په ځائے د چا په کور وغیره کښې خپلې ورځې پوره کوي او د مَدَني قافلے والا ټول په اتفاق سره داسې مریض د ځان سره بوځي چې د هغه نه کرکه کیږي نو هم باك نشته. خو دا خیال هم ساتل پکار دي چې [د داسې مریض په وجه] د بهر نه راتلونکو د عامو اسلامي ورونړو [د مدني قافلے والؤ خوا ته] د راتلو نه د رُکاوټ او هغوئي ته د تکلیف رسیدو اندیښنه نه وي.

صَدقہ نبی دی آل دا بخشے خدا شِفا　　منگو دعاواں میرے ہے بیمار واسطے

په خاطر د آلِ رسول دې راکړي خدا شِفا　　اوکړئ زما په شان بیمار ته دا دعا

## د هرې بیمارئ علاج شته دے

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! کینسر یو هلاك کونکے مَرَض دے، د ډاکټرانو مطابق د دې بیمارئ علاج نشته خو په حقیقت کښې داسې نه ده، ځنګه چې په مُسلِم شریف کښې راغلي دي چې: د **الله پاک** حَبِیب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: د هرې بیمارئ دارو شته دے،کله چې دارو بیمارئ ته ورسولې شي نو د **الله پاک** په حکم مریض ښه شي. (مُسلِم ص1210حدیث2204) یَقِیناً د **بوډا** والي او د **مرګ** نه سِوا د هرې بیمارئ علاج شته دے. خو دا جُدا خبره ده چې د ډیرو بیمارو

علاج طبيبانو [يعني ډاکټرانو] تر اوسه پورې نه دے موندلې، لِهٰذا د دې وئيلو په ځائے چې د "فلانکې مرَض علاج نشته"داسې وئيل مُناسب دي چې زمونږ سره د دې بيمارئ علاج نشته يا ډاکټرانو تر اوسه پورې د دې مرض علاج نه دے موندلې. بَهرحال که رَبِّ ذُوالجلال جَلّ جَلَالُہٗ اُوغواړي نو دارو د شِفا ذريعه جوړ شي کَنې داسې هم کيدے شي چې هم هغه دارو د مرګ پيغام ثابت شي! او داسې هم کيږي چې د ماهِر ډاکټر له طرفه صحيح ورکړې شوې دوائي هم په بعضې مريض باندې غلط اثر (REACTION) اوکړي او هغه نور هم زيات بيمار يا معذوره يا مړ شي او بيا د بعضو خلقو د ناپوهئ په وجه ډاکټر غريب په مصيبت کښې اخته شي. حالانکه دا خبره عقل بالکل نه مني چې ګَنې يو ډاکټر دې کوم يو مريض ته ښکاره جِسماني نقصان ورسوي يا دې ئې مړ کړي! ښکاره خبره ده چې که هغه داسې اوکړي نو د هغه بدنامي به وشي او خلق به د علاج کولو د پاره د هغه نه ډډه کوي. خو ديني تَعَصُّب [بُغض] او اسلام دُښمني جُدا څيز دے، هم د دې ويَرې په سبب د مشهورو عُلماؤ او د ديني مشرانو علاج د غير مُسلمو نه په نه کولو کښې خير دے چې هسې نه چرې د دوئي ژوند ته څه سخت نقصان ورسي. عامو مسلمانانو ته د غير مسلم ډاکټر نه په داسې مرضونو کښې د علاج کولو اجازت شته دے چې په هغې کښې د غير مسلم ډاکټر نه د نقصان رسيدو خطره نه وي.

## د غير مسلم نه د علاج يو عبرت حاصلونکے حکايت

زما آقا اعلٰی حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه په فتاوٰی رضويه جلد 21 صفحه 243 کښې ليکي: "اِمام مارزي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه بيمار شو (نو) يو يهودي طبيب د هغوئي علاج کولو، ښه به شو بيا به بيمار شو، ډير ځله داسې اوشو، آخِر هغه[طبيب] ئې يواځې را اُوغوښتو او پوښتنه ئې ترينه وکړه [چې دا څه وجه ده]، هغه ورته اُووئيل چې: که رِښتيا درته اُووايم نو زمونږ په نِزد د دې نه بل غټ د ثواب کار نشته چې ستا په شان اِمام د مسلمانانو

نه ضائِع (يعني ختم) كړو. اِمام هغه اُوشړو، **اللہ پاک** هغوئي ته شِفا ورکړه، بيا اِمام رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د طِب [يعني د حِکمت] طرف ته مُتوجِّه شو او د **طِب** كتابونه ئې ولیکل او طالِبِ عِلمان ئې ماهر طبيبان جوړ كړل او مسلمانان ئې منع كړل چې د كافِر طبيب نه كله هم علاج مه كوئ. ” (فتاوٰی رضویه ج21 ص243)(د غيرمُسلِمو نه د علاج كولو په باره كښې نور تفصيلات په فتاوٰی رضويه جلد 21 صفحه 238 نه 243 كښې اُوګورئ)

## د شفا كيدلو او نه كيدلو راز

**مُفَسِّرِ قُرآن، حَكيمُ الاُمّت، حضرت مفتي احمد يار خان** رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د دې حديثِ پاك [د هرې بيمارئ دارو شته دے،كله چې دارو بيمارئ ته ورسولې شي نو د **اللہ پاک** په حكم مريض ښه شي. (مُسلِم ص1210 حديث2204) ] نه لاندې په **مِرْاٰةُ شرحِ مشكوٰة** (جلد 6) صفحه 214 كښې د صاحِبِ مِرقاة رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په حواله نقل كوي: ”چې كله **اللہ پاک** د يوې بيمارئ نه شِفا وركول نه غواړي نو د دواء [يعني دوائي] او د مرَض په مينځ كښې د يوې **فِرښتې** په ذريعه پرده جوړه كړي چې د هغې په وجه دواء مَرَض ته نه رسيږي، چې كله ئې د شِفا اراده اُوفرمائي نو هغه پرده لرې كړے شي او دواء مرض ته ورسيږي او شِفا وشي.“ (مرقاةُ المَفاتِيح ج8 ص289 تحت الحديث 4515)

## د كينسر روحاني علاج

يو اسلامي ورور **سگِ مدينه** عُفِيَ عَنۡهُ ته اُووئيل چې زما ماما **د خيټې د كينسر** په مرض كښې اخته شو، علاج جاري وو، په يو هسپتال كښې هغوئي ته چا يوه پرچئ وركړه، په هغې كښې څه داسې ليكلي شوي وو چې د كينسر يو مريض ډاكټرانو لاعلاجه ګڼلې وو. هغه غريب په سخت تكليف كښې وو او د ژوند نه مايوسه شوے وو. په دې موقع چا هغه [مريض] ته د

قرآنِ مجید دَ مُختلفو سورتونو یو څو ټاکلې شوي آیتونه دَ لوستلو دَ پاره ورکړل (چې هغه مخکنبې راروان دي) هغه د زړه په اِخلاص سره د هغې هره ورځ تِلاوَت شروع کړو، د الله پاک په فَضل و کَرَم هغه په ښه کیدو شو او د یو څو کاله لوستلو په بَرَکت ئې د کینسر بیماري ختمه شوه او بالکل صحت مند شو. زما ماما هم په هغه پرچئ کښې د ورکړې شوي هدایت مطابق تِلاوَت شروع کړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه (د دې بیان ورکولو د وخته پورې) د ماماجي صحت دومره زیات په ښه کیدو دے چې مونږ ورته حیران یو. هغوئي د الله پاک شُکر ادا کړو او مسلمانانو ته د فائِدې رَسَولو په نِیَّت ئې د مُفت [یعني د هسې] تقسیمولو د پاره د ښکلي کارډ په شکل کښې د هغه پرچئ 2000 کارډونه چاپ کړل.که مریض د عِبادَت کولو د پاره د قُوَّت حاصلولو په نِیَّت په پخه عقیده د دې آیتونو تِلاوَت اوکړي نو اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالیٰ مایوسه کیږي به نه. (میعاد: د شِفا حاصلولو د وَخته پورې)

(اوّل آخِر د درې درې ځله درود شریف لوستلو سره هره ورځ یو ځل دا آیتونه لولئ)

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

﴿وَ نُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّ رَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ﴾[1] ﴿وَ اِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ یَشْفِیْنِ﴾[2] ﴿رَبِّ اغْفِرْ وَ ارْحَمْ وَ اَنْتَ خَیْرُ الرّٰحِمِیْنَ﴾[3] ﴿اَمَّنْ یُّجِیْبُ الْمُضْطَرَّ اِذَا دَعَاهُ وَ یَكْشِفُ السُّوْٓءَ﴾[4] ﴿قُلْنَا یٰنَارُ كُوْنِیْ بَرْدًا وَّ سَلٰمًا عَلٰۤى اِبْرٰهِیْمَ﴾[5] ﴿اَنِّیْ مَسَّنِیَ الضُّرُّ وَ اَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِیْنَ﴾[6] ﴿اَنِّیْ مَغْلُوْبٌ فَانْتَصِرْ﴾[7] ﴿لَاۤ اِلٰهَ اِلَّاۤ

اَنْتَ سُبْحٰنَكَ ۖۗ اِنِّیْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ ۚۖ۸۷ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۙ وَ نَجَّیْنٰهُ مِنَ الْغَمِّ ؕ وَ كَذٰلِكَ نُـْۨجِی الْمُؤْمِنِیْنَ ﴾[8] ﴿اِنَّ رَبِّیْ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ حَفِیْظٌ ﴾[9] ﴿حَسْبُنَا اللّٰهُ وَ نِعْمَ الْوَكِیْلُ ﴾[10] ﴿وَ تَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَ كَفٰی بِاللّٰهِ وَكِیْلًا ﴾[11] ﴿اَلَیْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ ﴾[12] ﴿هُوَ مَوْلٰىكُمْ ۚ فَنِعْمَ الْمَوْلٰى وَ نِعْمَ النَّصِیْرُ ﴾[13] ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴾[14] ﴿نِعْمَ الْمَوْلٰى وَ نِعْمَ النَّصِیْرُ ﴾[15] ﴿فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِیْنَ ﴾[16] لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِیِّ الْعَظِیْم

## په بنې لاس څنبئ ولې چې دا سُنَّت دي

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونو! بیشکه دَ باعَمله عالِم په صُحبَت کښې د آخِرت د فائِدو په باره کښې مَدَني ګلونه په لاس راځي. حضورِ مُحَدِّث اَعظَم پاکستان رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَیۡه هم یو باعَمله عالِم وو، د هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِ پاک عَلَیۡه مبارك عادت وو چې کله به ئې هم څوك په سُنَّتو پریښودو لیدلو نو د هغه اصلاح به ئې فرمائیله چنانچه د هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِ پاک عَلَیۡه یو شاګِردِ رِشید بیان کوي چې: د 1373ھ واقعه ده چې یوه ورځ د درسِ حدیث په دوران کښې چې د **مُسلِم شریف** درس شروع وو. یو صاحِب ”**دارُالحَدیث**“ ته د طلباء د پاره چائے راوړو. د درس د ختمیدو نه پس د حضرت شیخُ الحَدیث مَولانا سردار احمد رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَیۡه په اشاره چائے تقسیمیدل شروع شو. کله چې زما حقیر بنده وار راغې نو ما حقیر بنده په بنې لاس کښې کپ ونیولو او پرچ کښې مې چائے راواچولو او په چپ لاس مې خُلې ته نزدې کړو. [یو دم] په دارُ الحَدیث کښې د حضرت

1 (پ ۱۵، بنی اسرآئیل: ۸۲) 2 (پ۱۹، الشعراء: ۸۰) 3 (پ۱۸، المُؤمنون: ۱۱۸) 4 (پ۲۰، النمل: ٦۲) 5 (پ۱۷، الانبیاء: ٦۹) 6 (پ ۱۷، الانبیاء: ۸۳) 7 (پ۲۷، القمر: ۱۰) 8 (پ ۱۷، الانبیاء: ۸۷، ۸۸) 9 (پ۱۲، هود: ۵۷) 10 (پ ٤، اٰل عمرٰن: ۱۷۳) 11 (پ ۵، النساء: ۸۱) 12 (پ ۲٤، الزمر: ۳٦) 13 (پ ۱۷، الحج: ۷۸) 14 (الفاتحه: ۱) 15 (پ ۹، الانفال: ٤۰) 16 (پ ۱۸، المُؤمنون: ۱٤)

www.dawateislami.net

مُحَدِّث اَعظَم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د آواز انګازه خوره شوه. مَولانا! تاسو په چپ لاس [چائے] څښئ! ما کپ لاندې کېښودو،

په ښي لاس کښې مې پرچ ونيولو او څښل مې شروع کړو. چې کله مې په دويم ځل د کپ نه په پرچ کښې چائے اچولو نو بيا آواز راغې. مَولانا! تاسو په چپ لاس [چائے] اچوئ. نو ما پرچ کېښودو او په ښي لاس کښې مې کپ ونيوو او څښل مې شروع کړل. حضرت مُحَدِّث اَعظَم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه مُسکے شو او په ژبه مُبارَکه ئې دا الفاظ ادا کړل: "طَيِّبٌ طَيِّبٌ يعني اوس صحيح شوه." اوس هم چې کله يواځې ناست يم او دا واقعه را ياده شي [او په تصوّر کښې مې] د دې الفاظو طَيِّبٌ طَيِّبٌ انګازه په غوږونو ولګي نو د سترګو نه مې اوښکې رواني شي.

(حياتِ مُحَدِّثِ اعظم ص157)

## په چپ لاس خوړل، څښل، ورکول او اَخِستَل دَ شيطان طريقه ده

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! د دې حکايت نه دَ حضرت مُحَدِّث اَعظَم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د سُنَّت سره د مُحَبَّت اندازه لګيدې شي. کاش چې! مونږ ټول هم د نيکئ د دعوت هم دا انداز اختيار کړو او سُنتونه ډير ډير عام کړو. په ذِکر کړې شوي **حکايت** کښې په چپ لاس د چائے څښلو نه د منع کولو ذِکر راغلې دے او په حديثِ پاك کښې هم په چپ لاس د خوړلو څښلو نه منع راغلې ده. چنانچه د **دَعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارے **مَكْتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي د 1548 صفحو کتاب **فيضانِ سُنت** (اُردو، جلد اوّل) صفحه 230 نه 232 کښې دي چې: د حضرت سَيِّدُنا ابو هُريره رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، چې **حُضُور تاجدارِ مَدِينه** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلې دے: "په تاسو کښې دې هر يو په ښي لاس خوري او په ښي لاس څښي او په ښي لاس دې ئې اخلي او په ښي لاس دې ئې ورکوي ځکه چې شيطان په چپ لاس خوراك کوي

او په چپ لاس څښل کوي، په چپ لاس ورکول کوي او په چپ لاس اخستل کوي.“ (سُنَنِ اِبنِ ماجه ج4 ص12 حدیث 3266)

## هرکار په چپ لاس وَلې...؟

خوږو او محُترمو اسلامي ورونو! افسوس! نن صبا مونږ د دُنيا په معاملو کښې داسې نښتي يو چې د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوږو خوږو سُنَّتو طرف ته زمونږ هډو خيال نِشته. ياد ساتئ! په حديثِ مباركه کښې دي ”چې بيشکه شيطان د اِنسان (په بدن) کښې د وِينې په شان گرځي.“ (بُخاری ج1 ص669 حدیث 2038) نو ښکاره خبره ده چې هغه به مونږه په سُنَّتو باندې عمل کولو ته چرې پرېږدي؟ شيطان په مونږ پسې شوے دے اګرچې [بعضې خلق] په ښي لاس ډوډئ خوري خو بيا هم په چپ لاس څه نه څه دانې خُلې ته اچوي، د ډوډئ خوړلو په وخت کښې ښي لاس [په اِنګولې وغيره] ګکړ وي، نو په دې وجه اکثر خلق اوبه په چپ لاس څښي، د چائے څښلو په وَخت کښې ئې کپ په ښي لاس کښې او پرچ په چپ لاس کښې نيولې وي او چائے څښي، چا ته د اوبو ورکولو په وَخت کښې ئې جګ په ښي لاس کښې او ګلاس په چپ لاس کښې نيولې وي او په چپ لاس خلقو ته اوبه ورکوي. ”حياتِ مُحَدِّثِ اعظم“ صفحه 374 کښې دي: مُحَدِّثِ اعظم پاکستان مَولانا محمّد سردار احمد قادِري چشتي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ”په اَخِستَلو او ورکولو کښې ښي لاس استعمالوئ، دا عادت داسې پوخ پکار دے چې صبا په ورځ د قيامت کله اعمال نامه ورکوله شي نو چې هم د دې عادت مُطابِق مو ښي لاس ورمخکښ شي، نو بيا خو به کار وشي.“

یا الٰہی! نامۂ اعمال جب کھلنے لگیں
عیب پوشِ خلق ستّارِ خطا کا ساتھ ہو (حدائق بخشش شریف)

**شرحِ کلامِ رضا:** زما آقا اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د مُناجاتو د شعر په اولنۍ مصرعه کښې "نامہ اعمال جب کُھلنے لگیں" ليکلي دي، آخِري لفظ "لگے" د نه ليکلو هم عجيبه حکمت دے. که "لگے" ئې ليکلي وې نو معنیٰ به دا وه چې کله زما اعمال نامه بيرته کيږي، او هغوئې رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ دا غواړي چې کاش! زما خپله نامه اعمال د سره بيرته نه شي، بس دغسې بے حسابه بخښنه مې وشي لهٰذا "لگے" نه بلکه "لگيں" وليکو چنانچه د دې شعر به دا معنیٰ جوړه شي: په هغه وخت دې زما اعمال نامه هډو بيرته نه شي او **خوږ خوږ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته دې حواله کړے شي. خوک چې تا په خپل فضل وکرم سره "**سَتّارِ خطا**" يعني د "خطا ګانو پټونکے" جوړ کړے دے [**يا الله** عَزَّوَجَلَّ] که تا دا کرم وکړو نو بيا زما نافرمانۍ پوهه شه او د هغوئې کرم نوازي پوهه شه.

حضرت سَيِّد ديدار علي شاه صاحِب رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په بارګاه اِلٰهي کښې عرض کوي:

وقتِ نزع، وقتِ مرگ ووقتِ وحشت، قبر میں
حشر میں اُس شافعِ روزِ جزا کا ساتھ ہو

یا الٰہی جب عمل تُلنے لگیں میزان میں
شافعِ محشر شہِ ہر دو سرا کا ساتھ ہو

يا اِلٰهي په خُنکدن، مرګ، ويره، قبر و حَشر کښې چې مدد د شافِعِ اُمم راسره مَل وي
يا اِلٰهي کله چې تَلل شي اعمال په ميزان چې مدد د شافِعِ محشر راسره مَل وي

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د راتلونکي هفتې رساله




عالمي مدني مرکز فيضان مدينه محله سوداګران پراڼي سبزي منډي کراچي
UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213
Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net